# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد*

*همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم*

*www.afgazad.com* *afgazad@gmail.com*

| *اجتماعی* | *Social* |
|---|---|



د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن

۲۶ جون ۲۰۱۳


## متقاعدین،
## ځپل شوي زیارکښان چې په بیوزلی کې ژوند کوي

دا وخت په افغانستان کې ۱۳۰ زره متقاعدین ژوند کوي. دې متقاعدینو په بیلابیلو دولتونو  کې نژدې ۴۰ کاله کار کړی دی. په مختلفو دولتونو او مختلفو سیاسي نظامونو کې دوی ځپل شوي، ګواښل شوي، تبدیل شوي، منفک شوي؛ کله د «داوودي» په نامه ځورول شوي، کله د «خلقي» او «پرچمي» په نامه، کله هم د «مجاهد» او کله هم د «طالب» او په تیرو دولسو کالو کې  واسطې، فساد، «رفورم» او «تنقیص» دوی قرباني کړي دي.

یو ټیټ رتبه دولتي مأمور چې انرژی او توان یې ځلوېښت کاله د دولتونو لخوا کارول شوی او زبېښل شوی، اوس په کال کې یوازې له شلو تر پنځه ویشت زره افغانۍ د تقاعد حق اخلي  چې په  میاشت کې څه باندې ۲۰۰۰ افغانۍ جوړیږي. دا متقاعد مأمور ناچاره دی چې د همدې ۲ زره افغانیو سره ژوند وکړي، په داسي حال کې چې ګراني او قیمتی دومره ډیره ده چې د یوې ډوډۍ قیمت لس افغانۍ دی. که چیرې د دې مأمور کورنۍ پنځه تنه غړي ولري نو یوازې د یو میاشتې وچې ډوډۍ مصرف یې ۲۰۰۰ افغانۍ کیږي.

دا د یو ټیټ رتبه متقاعد مأمور ژوند دی. ځلوېښت کاله د هغه انرژي او توان مختلفو دولتونو د خپلو ګټو او د شتمنو د اداري سیستم د چلولو  لپاره کارولی دی، ځلوېښت کاله هغه د چارواکو سپکې سپورې اوریدلي، توهین او سپکاوی یې شوی، وهل شوی، رټل شوی، کسر معاش شوی، تبدیل شوی، او اوس باید په ۲۰۰۰ افغانیو سره ژوند وکړي.

د دولت ټیټ رتبه مأمورین د زیارکښانو له ډلې څخه دي او  هیڅوک نشي کولای چې هغوی د دې لپاره چې په دولتي ادارو کې کار کوي په دې نامه یا هغه نامه ورټي او سپکاوی یې وکړي. دوی د دولتونو کرنلاره نه ټاکي او د یو عالم په وینا دوی سیاست ګذاران نه دي، بلکې د یو دولتي کارګر په بڼه داسې یو دولت ته خپله انرژی د معاش په بدل کې خرڅوي چې د شتمنو دولت ګڼل کیږي.

د افغانستان د اکثریتو متقاعدینو اوسنی ژوند په بیوزلي کې تیریږي، حال دا چې د دولت  لوړ پوړي چارواکي هر یو یې د خپلو ورونو یا خپلوانو او یا میرمنو او اندیوالانو له لارې ښارګوټي، کارخاني، تجارتونه او شرکتونه لري. متقاعدین په کال کې یوځل بانکونه ته ځي څو خپل تقاعد واخلي، چې لیدل یې د هر با وجدانه انسان زړه دردوي.

د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن متقاعد ټیټ رتبه مامورین د خپلې ډلې څخه ګڼي او باور لري چې دا متقاعد زیارکښه انسانان یوځای هغه وخت هوساینې او آرامۍ ته رسیدلی شي چې زیارکښان وکړای شي داسې یو دولت جوړ کړي چې د زیارکښانو په چوپړ کې وي، هغه دولت چې د سرمایه دارانو او شتمنو پلوي کوي، په هیڅ توګه د متقاعدینو په ژوند کې ښوالی نشي راوستلی.